د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

لوګر پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

ښوونې او روزنې پوهنځی

# د ښوونې او روزنې پوهنځي ستراتیژیک پلان(۱۴۰۴- ۱۴۰۸) هـ.ل

کال : ۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

## ۱. د پوهنځي د رئیس پیغام

**بسم الله الرحمن الرحیم**

حامدا ومصلیا اما بعد.

خوښ یم چې لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره مو پنځه کلن ستراتیژیک پلان ترتیب او تدوین کړ.یاد پلان د ښوونې او روزنې پوهنځي د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د پرمختګ، لوړتیا، او ثبات یوه علمي نقشه ده، چې د واقعیتونو، اړتیاوو او ملي معیارونو په رڼا کې ترتیب شوی دی.

د تدریس او څېړنې د کیفیت د لوړوالي او د ټولنې د اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د ښوونې او روزنې پوهنځی د یو بنسټیز او پر واقعیتونو ولاړ ستراتیژیک پلان تدوین کړی دی. دا ستراتیژیک پلان د نوموړي پوهنځي د راتلونکو پنځه کلونو لپاره واضح لرلید، ماموریت، ارزښتونه، ځانګړې موخې او عملي تګلارې ټاکلي دي، تر څو وکولای شو د لوړو زده کړو ملي معیارونو سره همغږي او نړیوالو علمي معیارونو ته ځان نږدې کړو. باور لرو چې ستراتیژیک پلان زموږ د راتلونکې نقشه ترسیموي، چې د ټولو ښکېلو لوریو مشارکت، ژمنتیا، او هڅو ته اړتیا لري. دا پلان د پوهنځي د اداري، علمي، څېړنیزو او خدماتي چارو د تنظیم لپاره یو جامع چوکاټ وړاندې کوي.

زه د پوهنځي له ټولو درنو استادانو، کارکوونکو، محصلینو او متخصصینو څخه چې د دې پلان په ترتیب، تدوین او نهایي کولو کې یې ونډه اخیستې ده، صمیمانه مننه او قدرداني کوم. همداراز له ټولو ښکېلو لوریو هیله کوم چې د پلان په تطبیق کې له موږ سره همکاري وکړي. هیله لرم چې د دې ستراتیژیک پلان پلي کول به یاد پوهنځی یو پیاوړی، باکیفیته او د اعتبار وړ علمي مرکز وګرځوي.

**په درنښت**

**پوهنمل ابراهیم نوری**

**د ښوونې او روزنې پوهنځي رئیس**

**۲. سریزه**

ستراتېژیک پلان د یوې ادارې او سازمان په موخو ماموریت او د هغوی د ترلاسه کولو او ورته د رسېدو پورې تړاو لري. یا هم ستراتېژیک پلان هغه سند دی چې د یوې ادارې یا سازمان موخې، سیاستونه او پالیسۍ، او سره تړلي عملیاتي کړنې په یوې کُلي چوکاټ کې سره یو ځای کوي او په دې ډول واحد ترکیب ورکوي. ستراتېژکه پلان جوړونه یوه ټولیزه او عملي برنامه ده چې د یوې ادارې او سازمان لوری مشخص کوي او اوږود مهالو موخو ته د رسېدو په برخه کې د منابعو د تدارک لارښوونې په لاس ورکوي.

په علمي چاپیریال کې، د پوهنتونونو په اډانه کې پوهنځي هم یو شمېر زیات فرصتونه، بهرنۍ ننګوونې، او د ځواک او کمزورۍ له داخلي فکتورونو سره مخ دي او مختلفو لاملونو لکه (سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، تکنولوژیکي) سره لاس و ګریوان دي. له بله پلوه ګڼ شمېر داخلي لاملونه لکه د پوهنځي علمي شورا، د محصلانو او فارغانو ټولنه ، کارکونکي، استادان او د علمي کادر غړي، اداري سیستم، تحصیلي نصابونه، محصلانو د خدماتو وړاندې کول، برېښنایي زده کړې او حکومتولي هم د ځانګړي پاملرنې وړ دي.

پورتنو چارو ته په پام سره، اړینه ده ترڅو ښوونې او روزنې پوهنځی د خپلو علمي موخو د تحقق او لاسته راوړلو په منظور له داخلي او بهرني چاپیریال سره اوږدمهاله اړیکه ولري او د پوهنځی د لوړې کچې موخو ته د رسېدو په خاطر د عملیاتي پلانونو په تدوین لاس پورې کړي.

ښوونې او روزنې پوهنځی د ستژاتېژیک پلان جوړوونې په برخه کې چې کوم ماډل او تګلاره غوره شوې، خورا جامع او د نن ورځې مروجه بڼه ده. د ستراتېژیک پلان جوړوونې دا موډل په دوو ټولیزو پړاوونو ویشل کېږي. لومړی پړاو یې ښوونې او روزنې پوهنځی د ستراتېژۍ تدوین ده چې په دوو مرحلو کې ترسره شوې ده، لومړی د پوهنځي پېژندنه او د دې کار د ترسره کولو لپاره ځینې ځانګړي معلوماتي فورمې ترتیب او له مخې یې معلومات راټول شوي دي، البته دا کړنه ښوونې او روزنې پوهنځی د فعلي وضعیت ارزوونې لپاره ترسره شوې. په دویم ګام کې د سوات[1] له تحلیلي تګلارې څخه په ګټې اخیستنې ښوونې او روزنې پوهنځی د فعلي وضعیت تحلیل او ارزوونه شوې چې له مخې یې ښوونې او روزنې پوهنځی د ځواک، کمزورۍ، ننګوونو او فرصتونو موارد لسټ شوي دي او بیا یې هر مورد ته رتبه او ضریب په پام کې نیول شوی دی. د یادونې وړ ده چې به دې تحلیل کې ښوونې او روزنې پوهنځی استادانو /علمي کادر غړو، او همدا راز له یو شمېر په کار پوه محصلانو او فارغانو څخه معلومات اخیستل شوي دي چې په نهایت کې د سوات[2] په پایله کې ښوونې او روزنې پوهنځی فعلي وضعیت تهاجمي وګڼل شو. له دې څخه موخه دا ده چې د پوهنځی ځواکمنې ستراتېژۍ باید په داسې ډول واوسي چې له چاپېریالی فرصتونو څخه په استفادې د کمزورۍ په داخلي نقطو لاس بري شي او کمزوریانې راکمې کړي. له دې وروسته ښوونې او روزنې پوهنځی لرلید، ماموریت او ارزښتونه تدوین شوي دي چې دې چارې ته د ستراتېژیک

---

[1] **SWOT**

[2] SWOT

لارې د ثبات پړاو وايي. د پورته کړنو په تعقيب د پوهنځی عمومي موخې او ستراتېژيانې ټاکل شوي. په دويم پړاو کې ښوونې او روزنې پوهنځی موخو ته په پام سره کاري پلانونه تدوين شوي او د ترسراوي لپاره يې ځانګړي عملياتي پلانونه په پام کې نيول شوي دي.

د يادونې وړ ده، چې ښوونې او روزنې پوهنځی دا ستراتېژيک پلان د پنځو (۱۴۰۴-۱۴۰۸هـ ق) کلونو لپاره ښوونې او روزنې پوهنځی د مخکينې ستراتېژيک پلان په تعقيب تدوين شوی دی، او تر ډېره هڅه شوې ده ترڅو ټولې هغه موخې چې په پخواني پلان کې نه دې ترلاسه شوي په دې پلان کې ارزوول شوي او په پام کې نيول شوي دي.

### ۳. د ښوونې او رزونې پوهنځي پېژندنه

د لوړو زده کړو وزارت د درنو مقاماتو د (۵۷۵) ګڼې ۱۳۹۲/۱۲/۱۳ نېټې وړاندیز او د پخواني حکومت د ریاست مقام د (۱۲۰۰) ګڼې ۱۳۹۳/۰۲/۲۰ نېټې حکم پر بنسټ، د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځی د (ریاضي ـ فزیک) او (کېمیا ـ بیولوژي) په نوم له دوو ډیپارټمنټونو سره خپل علمي او اکاډمیک فعالیتونه پیل کړل.

نوموړي پوهنځي د خپلې پیلیزې دورې په اوږدو کې د دوو کلونو لپاره د یادو څانګو له لارې د تدریس چارې پر مخ یوړې. وروسته د تقنین او مؤسساتي انکشاف آمریت د (۱۱۴) ګڼې ۱۳۹۴/۴/۹ نېټې مکتوب او د علمي بورډ د ۱۳۹۸/۴/۸ نېټې پرېکړې پر اساس، دغه دوه ډیپارټمنټونه په څلورو جلا څانګو ـ (ریاضي، فزیک، کېمیا او بیولوژي) ـ وویشل شول.

په دوام کې، د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورا د (۵) ګڼې ۱۳۹۸/۵/۱۵ نېټې د (۱۷) بند د تصویب له مخې، د (اسلامي ثقافت) او (انګلیسي ژبې او ادبیاتو) دوه غیر فارغ ورکوونکي څانګې د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې رامنځته شوې. ورپسې د لوړو زده کړو وزارت د (۱۲۶) ګڼې ۱۳۹۸/٦/۱۴ نېټې مکتوب پر اساس، د بیولوژي او ریاضي څانګو لپاره د شپې برنامې هم په همدې پوهنځي کې پیل شوې او د محصلینو پر وړاندې یې خپلې دروازې پرانیستې.

د وروستیو پرمختګونو په لړ کې، د وزارت عالي شورا د (۱۰٦۹/۲٦۲۲) ګڼې د ۱۴۰۲/۲/۲ نېټې د (۸) بند د تصویب پر اساس، د کمپیوټر زده کړې څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې تاسیس شوه. همدارنګه، د اسلامي ثقافت غیر فارغ ورکوونکې څانګه د فارغ ورکوونکې څانګې په کچه ارتقا ومونده او د (اسلامي علومو او فرهنګ) تر عنوان لاندې تأیید شوه.

د ښوونې او روزنې پوهنځی د پوهې د ترویج، علمي څېړنو، مسلکي روزنې او بشري سرچینو د پیاوړتیا یوه مهمه علمي مرجع ده. دغه پوهنځی د ښوونې او روزنې په برخه کې د ټولنې د بنسټیز پرمختګ لپاره د متعهدو، متخصصو کدرونو د روزنې په موخه خپل علمي او مسلکي فعالیتونه پر مخ وړي.

### علمي او تحصیلي جوړښت

اوس مهال پوهنځی د اوو فارغورکوونکو څانګې لري ، چې په کې د لوړې علمي وړتیا، مسلکي پوهې او کافي تجربې لرونکي استادان په تدریس، څېړنه او د محصلینو په روزنه بوخت دي.

تر دې دمه پوهنځي د اتو (۸) تحصیلي دورو په اوږدو کې ټولنې ته (      ) تنه فارغان وړاندې کړي، چې د ښوونې او روزنې په برخه کې یې ارزښتناک او اغېزناک خدمتونه ترسره کړي دي.

## علمي کادرونه

د ۱۴۰۴ هجري لمریز کال د احصائیو پر بنسټ، په پوهنځي کې ۴۵ تنه استادان په تدریس بوخت دي، چې د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا تحصیلي درجې لري. یاد استادان د تدریس تر څنګ د علمي څېړنو، اداري چارو او د پوهنځي د علمي انسجام په پروسو کې هم فعاله ونډه لري. په یاد پوهنځي کې ۴۷۹ تنه محصلین د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه په زده کړو بوخت دي.

د پوهنځي رهبري دې ته ژمنه ده، چې محصلین د اسلامي، ملي روحیې او ملي تګلارو په رڼا کې وروزي. او اصلي موخه یې ټولنې ته داسې مسلکي کدرونه وړاندې کول دي، چې د نظام، هېواد او ټولنې په خدمت کې په پوره تخصص، صداقت او ژمنتیا سره ونډه واخلي.

## کمېټې

د پوهنځي د علمي او اداري چارو د انسجام او د خپلو ستراتیژیکو موخود پلي کولو په موخه یو شمېر کمېټې لري، چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:


- ✓ د کیفیت لوړاوي کمېټه
- ✓ د نصاب کمېټه
- ✓ د څېړنو کمېټه
- ✓ د فرهنګي چارو کمېټه
- ✓ د نظم او ډسپلین کمېټه
- ✓ د شکایتونو اورېدلو کمېټه
- ✓ د ازموینو کمېټه
- ✓ د ستراتیژیک پلان کمېټه
- ✓ د برېښنایي زده کړو کمېټه

دغه کمېټې د پوهنځي د علمي فعالیتونو په پیاوړتیا او د چارو په اغېزمن سمون کې مهم رول لوبوي.

## فزیکي او زیربنایي جوړښت

پوهنځی دوه تدریسي ودانۍ لري چې ۳۸ درسي خونې او د نږدې ۶۹۰ محصلینو د ځای ظرفیت لري. یادې ودانۍ د تدریس د معیاري چاپېریال لپاره یو مهم بنسټ ګڼل کېږي او د محصلینو د زده کړې بهیر په اغېزمنه توګه اسانتیاوې برابروي.

## د ښووني او روزني پوهنځي تشکیلاتي چارټ




شکل ۲: د ښووني او روزني پوهنځي تشکیلاتي چارټ

## د تحصيلي درجې او علمي رتبو پربنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځی استادانو شمېر

**جدول (۱) : د تحصيلي درجې پربنسټ د استادانو شمېر**

| جنسيت | دوکتور يا PhD | ماسټران | لسانس | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| **نارينه** | **1** | **21** | **23** | 45 |
| **ښځينه** | **0** | **0** | **0** | 0 |

**جدول (۲): دعلمي ربتو پربنسټ استادانو شمېر**

| جنسيت | پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنيار | نوماند پوهنيار | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **نارينه** | **0** | **0** | **3** | **6** | **13** | **23** | 45 |
| **ښځينه** | **0** | **0** | **0** | **0** | **0** | **0** | 0 |

**جدول (۳): د اکادميک بستونو پربنسټ د استادانو شمير**

| جنسيت | دويم بست | دريم بست | څلورم بست | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| **نارينه** | **2** | **11** | **32** | 45 |
| **ښځينه** | **0** | **0** | **0** | 0 |

**جدول (۴): د اداري او خدماتي کارکونکو شمېر**

| جنسيت | دريم بست | څلورم بست | پنځم بست | شپږم بست | اووم بست | اتم بست | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **نارينه** | **0** | **1** | **3** | **0** | **0** | **2** | 6 |
| **ټول** | **0** | **0** | **0** | **0** | **0** | **0** | 0 |

## د محصلینو احصائیه

جدول(۵):  ۱۴۰۴ کال کې د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلانو احصائیه

| ګڼه | څانګه | د محصلینو شمیر | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | ریاضی | ۵٦ | |
| ۲ | فزیک | ۳۳ | |
| ۳ | کیمیا | ۵۵ | |
| ۴ | بیولوژی | ۱۴۹ | |
| ۵ | اسلامي علوم او فرهنګ | ۴۴ | |
| ٦ | انګلیسي ادبیات | ۴۲ | |
| ۷ | کمپیوتر زده کړه | ۱۰۱ | |
| مجموعه | | ۴۸۰ | |

## د فارغ شویو محصلینو احصائیه

جدول(٦):  ۱۳۹٦-۱۴۰۴ کال پورې  د ښوونې او روزنې پوهنځي فارغ شوو محصلانو احصائیه

| ګڼه | کال | څانګه | د فارغ شوو محصلینو شمیر | | مجموعه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | ذکور | اناث | | |
| ۱ | ۱۳۹٦ | ریاضي و فزیک | 17 | | 58 | |
| | | کیمیا و بیولوژي | 41 | | | |
| | ۱۳۹۷ | ریاضي و فزیک | 36 | | 67 | |
| | | کیمیا و بیولوژي | 31 | | | |
| | ۱۳۹۸ | ریاضي | 49 | | 141 | |
| | | فزیک | 27 | | | |
| | | کیمیا | 30 | | | |
| | | بیولوژي | 35 | | | |
| | ۱۳۹۹ | ریاضي | 0 | | 0 | |
| | ۱۴۰۰ | فزیک | 44 | | 169 | |
| | | کیمیا | 33 | | | |
| | | بیولوژي | 41 | | | |
| | | بیولوژي | 51 | | | |
| | ۱۴۰۱ | ریاضي | 48 | | 170 | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | فزیک | 39 | | | |
| | | کیمیا | 34 | | | |
| | | بیولوژي | 49 | | | |
| | ۱۴۰۲ | رياضی | 36 | | 126 | |
| | | فزیک | 31 | | | |
| | | کیمیا | 28 | | | |
| | | بیولوژي | 31 | | | |
| | ۱۴۰۳ | رياضی | 16 | | 66 | |
| | | فزیک | 17 | | | |
| | | کیمیا | 16 | | | |
| | | بیولوژي | 17 | | | |
| | ۱۴۰۴ | رياضی | 15 | 0 | 71 | |
| | | فزیک | 16 | 0 | | |
| | | کیمیا | 18 | 0 | | |
| | | بیولوژي | 22 | 0 | | |
| مجموعه | | | | | 868 | |

**۴. لرلید**[3]

د ښوونې او روزنې پوهنځی هڅه کوي چې د ټولنې اړتیاوو او د کار بازار ته په کتو، د څېړنو او مسلکي ښوونکو روزلو  په برخه کې د هیواد په کچه  د یو با اعتباره او مخکښ اکاډمیک بنسټ په توګه ځانګړی مقام خپل کړي.

**۵. ماموریت**[4]

ښوونې او روزنې پوهنځی په لازمو مهارتونو، عصري مېتودونو، ښوونیزه ټکنالوژۍ، اسلامي او ملي روحیې سمبال مسلکي، ژمن او مبتکر ښوونکو روزل او ستونزو ته علمي حل لارو لټولو په موخه د څېړنو ترسره کول خپل ماموریت ګڼي.

---

3. Vision

4. Mission

## ٦. ارزښتونه[5]

- ✓ اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی او ژمنتیا.
- ✓ د هیواد نافذه قوانینو، احکامو،فرامینو او لوایحیو ته درناوی.
- ✓ صداقت، عدالت او تعهد.
- ✓ کاري ژمنتیا او پر مسلکیتوب باور.
- ✓ چارو کې کیفیت ته ځانګړې پام لرنه.
- ✓ شفافیت و حساب ورکونه.
- ✓ د مسئولیت احساس.
- ✓ خلاقیت او نوښت.
- ✓ د فساد او تعصب په وړاندې مبارزه.
- ✓ د مشارکت اصل ته په کتلو سالم رقابت کول

## ۷. د ښوونې او روزنې پوهنځي موخې

ښوونې او روزنې پوهنځي ستراتېژیک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. ښوونې او روزنې پوهنځي د ټاکلو ارزښتونو، لیدلوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. پوهنځي پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسېدو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې موخې تعقیبوي:

1. علمي تحصیلي او څېړنیزو چارو په برخه کې په ملي او نړیوالو معیارونو سره ښوونې او روزنې پوهنځي عیارول.
2. د بېلابېلو علمي او تخصصي پروګرامونو پراختیا او له نړیوالو منل شوو معیارونو سره یې برابرول.
3. د لوړو زده کړو په برخه کې د شفافیت بهیر لا پیاوړی کول.
4. د څېړنو پر مټ د ټولنې ستونزو پېژندل او ورته مناسبې حللارې پیدا کول.
5. د زیربطو ادارو او اشخاصو په وړاندې ښوونې او روزنې پوهنځي څخه اغېزمنه استازولي او له دوی سره د ښو او دوامداره اړیکو ساتل.
6. د هیواد په هر اړخیزې دوامدارې پراختیا کې پراخه ونډه اخېستل.
7. د فزیکي پراختیا او د ودانیزو، زیربنایي اسانتیاو له لارې پوهنځي په یو اغیزناک او مساعد علمي چاپیریال بدلول.

5 Value

**۸. د لوړو زده کړو وزارت د لسګونو لویو ستراتیژیکو موخو په رڼا کې د ښوونې او روزنې پوهنځي بنسټیزي موخې او برنامې.**

۱. د څیړنې پراختیا، د علم تولید او نوښت

۲. ښه حکومتولي، د نظام جوړول او د فساد بشپړ له منځه وړل

۳. د نصاب تطبیق او څارنه

۴. د کیفیت لوړاوی ، د کیفیت څارنه، ارزونه او ښه والی

۵. د برېښنايي زده کړو پراختیا او ښه والی

۶. د زېربناوو پراختیا او معیاري کول

۷. د اکادمیک کارمندانو د ظرفیت لوړول

۸. له علمي او غیر علمي بنسټونو سره د اړیکو پراختیا او ښه والی

۹. لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او زده کونکو ته د وړتیاوو د ودې او پراختیا لپاره د خدماتو چمتو کول

**9. لنډ مهالې موخې**

د ښوونې او روزنې پوهنځي د ستراتېژیک پلان جوړولو موخه دا ده چې د لوړو زده کړو بهیر لا چټک او اغېزمن شي، څو وکولای شي د ټولنې د موجودو ننګونو او ناخوالو په لرې کولو کې خپل رغنده رول ولوبوي. دغه پوهنځی، د ټاکل شوي ماموریت پر بنسټ، د داسې وړ او مسلکي کدرونو د روزنې هڅه کوي چې نه یوازې د ټولنې په پرمختګ کې ونډه واخلي، بلکې د خلکو ستونزو ته د حل لارې هم ومومي. د دې ستر ماموریت ځینې بنسټیز ټکي په لاندې ډول دي:

1. د علمي بهیر د لا غوړېدا په موخه د استادانو د شمېر لوړول.
2. د اداري کادر پراختیا او ظرفیت لوړل.
3. د کارګرانو شمېر زیاتول.
4. له وزارت او ولایتي ادارو سره د اغېزمنو اړیکو ټینګښت.
5. د وخت له غوښتنو سره سم د مسلکي کدرونو روزنه.
6. د محصل او استاد د تناسب ۲۰:۱ را ټیټول.
7. استادانو ته د وړتیاوو د لوړونې زمینه برابرول.
8. د فیلوشیپونو، سیمینارونو او څېړنیزو پروګرامونو فرصتونه برابرول.
9. د لابرانت ظرفیت لوړونې په موخه پروګرامونه په لار اچول.

10. له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره د هیواده په کچه د علمي او اکاډمیکو اړیکو همغږي.

11. د وخت او بازار د غوښتنو پر بنسټ معیاري زده کړو وړاندې کول.

12. د شنې ساحې پراختیا.